# کسبګر طبقه د پښتو ادب په ړنا کښې :تحقیقي او تنقیدي جائزه

# The critical review of literature that depicts the Pashtun professional class

Dr. Sajjad Elahi [1]

Dr. Shakeel Ahmad [2]

## ABSTRACT:

*Professional and skilled people are considered as backbone of a society. No society can progress without the role played by this class of society. But unfortunately, in some regions and areas they are considered as low born and are ill-behaved. In Pashtun society such people are never given respect and are considered as the lowest of all races. Such reaction by the society is always felt and described by the intellectuals and poets in their writing, prose or phrase. In this research paper such feelings being expressed in Pashto Proverbs, Tapa and mostly by Classical poets will be analyzed in depth.*

Keywords: Kasabgar, Pashto,ادب poetry

د دنیا چې څومره هم زاړهٔ قاموںه او تهذیبونه مطالعه کړے شي نو د ژوند د تېرولو د پاره به پکښې هر ځاے د اب هوا او د ضرورت مطابق طور طریقې رائج شوې وي ـ دغه طور طریقې یا د مذهبي عقیدتونو او یا د مذهبي ویرې له وجې نه مخې ته راغلي دي چې نن سبا ورته مونږه د اساطیر یا دیومالائي اصطلاح پکاروو او یا د انساني ذهن د تخلیقي هنر له وجې پهٔ وجود کښې راغلي دي ـ پهٔ دغه تهذیبونو چې نظر واچوو نو دغه طور طریقې پهٔ عملي توګه باندې د کلتور برخه ګرځېدلې ده یا داسې به ووایو چې کلتور هم د دغې نه پهٔ وجود کښې راغلے دے ـ د هر قام دود دستور، کلتور او ائین د دې د پار پهٔ وجود کښې راځي چې د انسانانو تر مینځه یو روحاني او عمراني تړون وشي ـ

[1] Visiting lecturer, Islamia College University, Peshawar

[2] Lecture in Pashtu, university of Peshawar

د دغه عمراني تړون له مخه چې د امو او اباسین ترمینځه کوم قام ته پښتون قام وئیلے شي دې قام خپل دود دستور، ائین او کلتور ته د پښتونولۍ نوم ورکړے دے او هم د دغې پښتونولۍ او (پښتونواله) له وجې دا قام پښتون هم بللے شي ـ دغسې د دې قام چې څومره هم تاریخ دے خو هم د دغې پښتونولۍ د سیورې لاندې چلېږي ـاوس راځو دې خبرې له چې پښتونولۍ کښې طبقات موجود دي او کۀ نه خو کۀ فرض کړه موجود دي نو پۀ کوم ډول موجود دي او څنګه پۀ وجود کښې راغلي دي ـ

کۀ مونږه پۀ تمامې انساني ارتقا باندې خبره وکړو چې د انسان ارتقا پۀ کوم ډول شوې ده نو پۀ دې ارتقا کښې تر ټولو مهم جلبت ځان ساتنه ده ـ دغه ځان ساتنې د پاره هر ژوندے څیز او خصوصاً انسانان پۀ دې زغل کښې دي چې د ځان د ساتنې د پاره هر هغه څۀ پۀ خپل قابو کښې راولي کوم چې د دۀ ضرورت دے ـ دغسې د دې ضرورت سره سم انساني ټولنه کښې تقسیم پیدا شي او دوه ډلې پۀ وجود کښې راشي یو دا چې زورور انسان شي او بل دا چې کمزورے انسان شي ـ دغسې کمزورے انسان پۀ هر حال کښې د ځان ساتنې د پاره د زورور محتاجه شي او د دۀ غلامي ومني او زورور انسان د ځان ساتنې د پاره پۀ کمزورې باندې خپل تسلط قایم ساتي ـ هم دغه ځاے کښې پۀ انساني ټولنه کښې دوه طبقې پۀ وجود کښې راشي ـ ورستو پۀ مارکسي تناظر کښې دغه طبقات د دوو پۀ ځاے باندې پۀ دریو کښې وېشلي شوي دي ـ

پۀ پښتونولۍ کښې چې کوم ځاے کښې د زورور او کمزورې تصور دے نو هغه داسې نۀ دے چې پښتنو کوم انسانان پۀ حکومتي توګه باندې خپل غلامان ساتلي دي کۀ د پښتنو پۀ باچاهۍ کښې داسې وو خو هم باقاعده نظام ئې نشته ـ خو د یو نامعلوم تاریخ پۀ پس منظر کښې چې مونږه ارین قامونه مطالعه کړو نو پۀ دې کښې عموماً هغه انسانان چې کمزوي به وګڼلي شو نو هغوي به د زورورو د پاره د ژوند ذرایعې پیدا کولې چې مطلب ترینه کار کسب دے او د کسب کونکو دغه طبقاتي مثال په ټولو قومونو کښې تقریباً چې مشترک دے ـ ځکه دلته د پښتونولۍ پۀ تناظر کښې کۀ دې ته وګورو نو هم یو هغه خلق دي چې ځان ئې ظالم تسلیم کړے دے او بل هغه خلق دي چې ځان ئې کمزورے او پاتے تسلیم کړے دے ـ کومو خلقو چې ځان پاتې او کمزورے تسلیم کړے دے هغه خلقو د زورور د پاره د ژوند ضرورتونه پوره کړي دي دغسې پۀ پښتنه ټولنه کښې هم د کسب ګرو یوه طبقه د لاندې طبقې پۀ مثال پۀ وجود کښې راغلي ده ـ د پښتون معلوم تاریخ چې مونږه ګورو نو پکښې داسې مثالونه مخې ته راغلي دي چې دغه کسب ګر ته پکښې سپک کتلي شوي دي لکه د مثال پۀ توګه دلته زۀ د پښتنو د ټولو مشهور شاعر رحمان بابا شعر راخلمه چې :

”اورنــــــګ زېــــــب او شــــــاه جهـــــان غونـــــدې اشـــــراف
صـــــــــدقه د منصـــــــــور غونـــــــــدي ننـــــــــداف“[1]

پهٔ دې شعر کښې کهٔ هر څو رحمان بابا تقوه ته مايله دے خو پـهٔ غېـر شـعوري توګـه بانـدې اورنګ زېب او شاه جهان اشراف يادول او منصور غوندي نداف (جولا) راوړل پـهٔ خپلـه دا ښائي چې د رحمان بابا پهٔ لاشعور کښې هم دغه طبقه پرته وه.

اوس چې د پښتونولۍ په تناظر کښې ورته ګورو نو تر ننـه يـا شـايد تـر پرونـه (سـبا حـالات بدلېدې شي) پهٔ پښتنه ټولنه کښې دغه طبقات موجود دي ـ لکـه هغـه خلق څـوک چـې کسـب کوي د مثال پهٔ توګه باندې ډمتوب، نائي توب، چمیـارتوب، کلالتـوب، ترکـاڼتوب، جولاتـوب وغېره هغه باقاعده د پښتونولۍ له لوري کمزوري او سپکه طبقه ګڼلې شي ـ دا طبقه اکثر پهٔ ميراثونو کښې خپل د پلار نيکه ميراث (يعنې پټے يا دوتر) نهٔ لري ـ دوي تـه کورونـه هـم د نورو خلقو چې ملکان وي يا هسې خانداني وي ورکـړي وي ـ د کسـب ګـر طبقـې سـره عـام خلق د لُور خور ورکړه راکړه يعنې رشتې نه کـوي ـ اکثـر دوي تـه هـم دغسـې سـپک کتلـې کېږي کوم سپک نظر چې پهٔ هندي تهـذيب کښـې د کمـزورو طبقـو تـه کېـږي ـ کـهٔ چـرې د رشتې خبره راشي نو هم پورته طبقه وائي چې ”مونږ پښتانهٔ يو دا کار نهٔ شو کـولې“ ـ يعنـې کسب کونکې طبقه چې هم د دې قامه ده هغه پښتانهٔ هم نهٔ ګڼلې کېږي ـ

د دې پهٔ شا باندې چې کوم محرکات ما بيان کړل هغه ځان ساتنه او انسـاني ضـرورتونه دي کوم چې پهٔ معاش يعنې پېداوار باندې اډانه لري ـ لکه پهٔ دې طبقاتو کښې اکثر هغه خلق چې يا خو تعليم وکړي لويه نوکري حاصله کړي، يا پيسـې وګټـې او د عـامو خلقـو نـه ښـهٔ ژونـد ولري نو بيا هغه سره عامه توګه باندې رشته کېږي او هغـه تـه سـپک نـهٔ کتـل کېـږي ـ هـم دغسې کهٔ مونږه د پښتو فولکلوري اصنافو ته وګـورو نـو هـم پـهٔ دې کسـب ګـرو کښـې يـوه طبقه د زرګر هم ده ـ سرهٔ زر پهٔ دنيا کښې قيمتي شيانو کښې ګڼل کېږي ځکه د دې چې کوم کسب کونکې دي هغوي ته څوک هم پهٔ سپک نظر نهٔ ګـوري ـ خـو د دغـه کسـب متعلق هـم ټولنه پهٔ څهٔ نه څهٔ شکل باندې زرګر باندې نيوکه کوي کوم چې د هغهٔ طبقـې تـه نظر کولـو کښې راځي ـ لکه !

(زرګر د مور نه هم غلا کوي) ـ پهٔ دې وجه دا پېشه د تنقيد ښـکار ده ـ دلتـه هغـه متلونـه پـهٔ دې خاطر شريکومه کوم چې د پښتو متل باقاعده برخه ده او کهٔ متل مونږه د مشـرانو دانـش ګڼو نو پهٔ دغه دانش کښې کسب ګر طبقې ته سپک نظر شوے دے ـ

- ”د خوار مُلا پهٔ بانګ څوک روژه نهٔ ماتوي“[2]
- ”کلاله وکړه خپله سياله“[3]

- ”ذات ئې ګوره دوست ئې بوله“[4]
- ډم چې بېغرته نۀ وي نو څوک ئې څۀ کوي[5]

پۀ مذکوره متلونو کښې هم هغه خلق چې کسب ګر دي جدا نسل ګڼل شوي دي او سپک نظر ورته شوے دے ۔ هم دغسې کۀ د پښتو متل نه پس د پښتو اولسي ادب ټپه هم پۀ نظر کښې وساتو نو دغه قسمه رویه پکښې پۀ نظر راځي لکه !

”ورک مسافر شه ورک ئې نوم شه
د کلي ډم مېره کووم په کور به وینه“[6]

”اصیله وم کم اصلو یوړم
کم اصل داسې مې ساتي لکه مغوله“[7]

”یار مې شاه خېل دے زۀ خان خېله
د زړو جام د تیلو چج کښې ورکومه“[8]

”عالمه سر مې د ویښتو دے
د باچا لُور وم پۀ جولا مینېدمه“[9]

”جولاګان ښۀ وي غم ئې نۀ وي
ورک دي پښتون شي شپه او ورځ کوي جنګونه“[10]

پۀ وړاندینو مذکوره ټپو کۀ نظر وغورځو نو پۀ پکښې کسب ګر طبقې ته یو قسم سپک نظر شوے دے ۔
هم دغه نظر چې کله د پښتو شاعرئ کښې لټوو نو هم پۀ دغه حواله باندې لکه چې د پښتنو پۀ ټولنه کښې د ډېر پخوا نه کسب ګر طبقې ته سپک کتلي شي ـلکه رحمان بابا وائي
-----------------------!

”همســـــــــایه وي چریکــــــــــار د پښــــــــتانۀ شــــــــــي
او پـــــه اصـــــل بـــــه مـــــوچي یـــــا بـــــه قصـــــاب وي“[11]

هم دغه رنګه خوشحال خان خټک هم دغه کسب ګر طبقه پۀ یوه حواله باندې کم تر ګرځولي دي ۔ د دې باوجود چې خوشحال خان خټک د پښتو ادب تر ټولو ستر پوهه او د حوالې قابل شاعر دے ۔ خو هغه هم دغه طبقه د پښتون نسل څخه نۀ ګڼي ۔ وائي چې !

کـــهٔ چمیـــار دے کـــهٔ نـــداف دے کـــهٔ جـــولا دے
تـــر اصـــیل ســـړي ئـــې ښـــېنوي بـــر زر"[12]

"د اصـــیل ښـــیوه خپـــل اصـــل نـــهٔ لبـــاس دے
پـــهٔ زربـــافتو ښـــې یـــا ډم وي یـــا مریونـــه"[13]

دلته پهٔ دې رباعۍ کښې خوشحال بابا چې د کور کومه ډمې ته اشاره کوي دا هم پهٔ اصل کښې هم زنانه ده چې د کسب ګر طبقې ده خو چې پهٔ کور کښې خدمتګاره شي نو پښتانهٔ ورته ډم وائي .

"کښـــلې هغـــه ده صـــفت ئـــې ښـــائي
چـــې هـــر ځـــاے ئـــې وګـــړے ســـتائي
هغـــه د ښـــکلو پـــهٔ شـــماره نـــهٔ ده
چـــې د کـــور ډمـــه ئـــې ســـتائنه وائـــي"[14]

غني خان چې دې پټان کتاب لیکلے دے نو پهٔ هغې کښې ئې د پښتنو د ذهنیت پهٔ حقله باندې دغه خبره ډېره پهٔ ښکلې کړې ده چې !

"The Pukhtoon loves fighting but hates to be a soldier; loves music but has a great contempt for the musician; is kind and gentle but hates to show it[15]"

ژباړه : پښتون د جنګ سره مینه لري خو د عسکر نه نفرت کوي، د موسیقۍ سره مینه لري مګر د موسیقۍ د پاره لوے سپکاوے ګڼي، مهروبان او نرم دے مګر د ښودلو څخه ئې نفرت کوي.

او ځکه دا خبره د ډېر پخوا نه سمه ده چې ډول او رباب، منګے وغیره ځومره د امن علامتونه دي او پهٔ پښتنه حجره او شاړه میدان کښې ښکلا پیدا کوي . هم دغسې پهٔ عامه ټولنه کښې د دې غږونکے (ډم) بللے شي او دغه کار پهٔ اجتماعي توګه باندې شرم دے . لکه حمیدبابا وائي چې!

"لـــه وهلـــو بـــه ئـــې شـــرم څـــوک پـــهٔ څـــهٔ کـــا
چـــې پـــهٔ غـــاړه شـــي د مینـــې ډول د چـــا"[16]

پهٔ دغه شعر کښې ډول د مینې علامت دے خو حمید بابا چې پهٔ خپله فنکار ؤ هغه ورته د شرم سره تشبیهه ورکړې ده او یقیناً چې حمید بابا دا پهٔ غیر شعوري توګه کړي ځکه چې دا د ټولنې عمومي تاثر دے .

دلته چې ځومره هم شعرونه وړاندې شول د ټولو پهٔ رڼا کښې دا خبره سپینېږي چې پښتانهٔ کسب ګرو ته یا هنر مندو تـه د ډېر پخوا نـه پـهٔ سپک نظر ګوري ـ بلکې د خوشحال پـهٔ شعرونو کښې داسې ښکاري چې پښتانهٔ ګنې جدا نسل دے او پکښې دېره دغه طبقې د بل نسل دي ـ خو داسې هیڅ کله نهٔ ده بلکې د پښتون قام پهٔ هره قبیله، یوسفزی، خټک، مومند، افریدي، شینواري وغېره کښې کسب ګر هم د دغه ټولنې غړي دي ـ

Pukhtunkhwa Journal

## حوالي


1 : عبدالرحمان، رحمان بابا دیوان، مرتب محمد عارف غروال، صداقت خپرندویه قندهار، ۱۳۹۸ ش، مخ ۱۳۱

2 :اصف صمیم، د متلونو کلیات، علومو اکادمي کابل، ۲۰۱۵، مخ ۸۷

3 :هم دا کتاب، مخ ۱۹۴

4 :هم دا کتاب، مخ ۱۳۴

5 : نواز طایر، روهي متلونه دویم جلد، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، مخ ۸

6 : عثمان اولسیار، د ټې سیاسي اړخونه، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۴، مخ ۵۱

7 : هم دا کتاب، مخ ۲۵۱

8 : سلطان روم، د نیمي شپي تپي راوکه، عظیم پبلشر، مخ ۱۳

9 : همدا کتاب، مخ ۴۵

10 : عبدالرحمان، رحمان بابا دیوان، مرتب محمد عارف غروال، ، مخ ۱۹۲

11 :

12 :خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۰۴، مخ ۲۶۱

13 :همدا کتاب، مخ ۳۹۲

14 :همدا کتاب، مخ ۴۰۲

15 :Abdul Ghani Khan, The pathan, university publisher, 2021, p24

16 : عبدالحمید مومند، د عبدالحمید مومند کلیات، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۱، ص ۲۵۱


Pukhtunkhwa Journal